د افغانستان اسلامي جمهوریت
د مالیې وزارت
د ګمرکونو او عوایدو معینیت
د عوایدو لوی ریاست

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
معینیت عواید و گمرکات
ریاست عمومی عواید

د عوایدو لوی ریاست
د حقوقي خدمتونو ریاست

# د کوچنیو تشبثاتو(اصنافو) د ثابتې مالیې د تثبیت طرزالعمل

شمیره (    )

نیټه:

**مبنی:**

دا طرزالعمل پرعایداتو باندی د مالیاتو قانون د ۱۰۸ مادې (۲) فقرې او د مالیاتی چارو د ادارې د قانون د ٦٢ مادې د حکمونو پربنسټ د کوچنیو تشبثاتو(اصنافو)د ثابتې مالیې د ټاکلواو ترلاسه کولو په موخه وضع شوی دی.

مالیاتي ادارې مکلفی دی ترځو پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون ( چې د ۱۳۹۵ کال د حمل په ۲۵ مه نیټه په ۱۲۰۹ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوې) د ۷۴ او ۷۵ مادو د تعدیل شویو حکمونو د تطبیق په اړه خپل اجراآت د دې طرزالعمل د لارښونو پربنسټ عیارکړي.

**دمالیې د تثبیت هیئت:**

هغه مالیاتي ادارې چې د کوچنیو تشبثاتو(اصنافو) دثابتو مالیوپه راټولولو او ترلاسه کولو کی فعالیت لری، مکلف دي چې د پلان مطابق د کاري ساحې لپاره د مالیې د تثبیت او ټاکلو ټیمونه په کار وګماري. د مالیې د تثبیت ټیمونه د مالیه ورکونکي په همکارۍ او د هغه لارو چی په دغه طرزالعمل کی په پام کی نیول شویدی او د قانون د حکمونو په رعایتولو سره د کوچنیو تشبثاتود ثابتومالیو په ټاکلو اوتثبیت کی باید عمل وکړي.

د مالیې د ټاکلو موظف شوی هیئت چې د مستوفیت یا مالیاتي ادارې لخوا د کار ثابت محلونو ته د پلان پر بنسټ د مالیې د تثبیت لپاره دنده ورکول کیږي لومړئ باید دغه هیئت د هغه سیمی ټولی هټۍ په هټیو کې شته توکی، د مالونو نوعیت، اجناس، د دوکان د کرایوي ارزښت له لحاظه اوپرعایداتو باندی د مالیاتو د قانون د تعلیمات نامې په (۷۵) مادې کې ذکر شویو شاخصونو پر بنسټ مقدماتی سروې وکړي او د عاید له لحاظه مشابه هټۍ یوله بل سره ردیف بندي کړي.

بیلګه: په یوه واټ کې سل هټۍ چی څو ډوله شیان وړاندی کوي شتون لري، هیئت په لومړنۍ(مقدماتی) ارزونه کې د یو لاروی په شان ټولی هټۍ د معیارونو سره سم ارزوي، وروسته د لومړنۍ ارزونې اود دغه طرزالعمل د معیارونوپه نظرکی نیولو سره د هرې هټۍ داوسط خرڅلاو په اړه کره ارزونه پیلوي ترڅو مالیه سنجش اوتثبیت کړي، دا د هغو هټیود مالیې د ټاکلو لپاره چې یو له بل سره مشابه وي، یو ښه معیاردی. د دغه میتود له لارې د هیئت کار ساده او اسانه کیږي او د وخت د ضایع کیدو مخنیوی کیږی او له بلی خوا مالیاتي عدالت خوندي کیږي.

**د ثابتی مالیې د تثبیت لاره:**

اوسنۍ پالیسۍ سره سم، د مالیاتو سنجش اوتثبیت باید دځاني ارزونې پر بنسټ ترسره شي. د دې طریقې پر بنسټ

مالیه ورکونکی په خپله مکلف دی ترڅو د کوچنیو مالیه ورکونکو ریاست ته د خپل اوسط خرڅلاو عواید چې د مالیې تابع دي د مالیاتی قوانینو دحکمونو مطابق تثبیت او پر اساس یې مالیه سنجش او تحویل کړي. مگر هغه حقیقي اشخاص چې په کوچنیو اقتصادي فعالیتونو کې مصروف دي او د مسلکي ظرفیت د نشتون له امله د مالیاتو دټاکلو او سنجش توان نلري او حقیقي مالیه نشی ټاکلې، اړونده مالیاتي اداره مکلفه ده تر څو د هغو لارو سره سم چې په دغه مالیاتی قانون، د مالیاتی قوانینو د تعلیماتنامې او په دغه طرزالعمل کی راغلي دي، د کوچنیوتشبثاتو د ثابتو مالیاتو په تثبیت کې مرسته وکړي او د دغو اشخاصو د دریو کلونو حقیقي مالیه تثبیت او مالیه ورکونکی اړ کړي ترڅو خپله تثبیت شوې مالیه د قانون دحکمونو مطابق په ټاکلي وخت کی تحویل کړي.

**د ثابتی مالیې د تثبیت او ټاکلو لپاره باید په عمومي ډول لاندیني معیارونه په پام کې ونیول شي:**

۱ د تشبث لخوا د وړاندې شویو اجناسویا خدمتونو ډول.

۲ د کار تخمینی کمیت یا د خرڅلا حجم.

۳ د کرایې ارزښت، د تشبث د موقعیت پراخوالی او ظرفیت.

۴ د تشبث موقعیت او د نفوس په تناسب دهغه اقتصادي گټې.

۵ د وړاندی کیدونکو اجناسو یا خدمتونو د تقاضا میزان.

٦ د پانگې اټکلیز تثبیت، د اجناسو یا خدمتونوارزښت او د خرڅلاو بیی.

۷ دکورني او بهرني تولیداتو میزان.

۸ د مصرفي او غیر مصرفي اجناسو میزان.

۹ د تشبث د ورځني، میاشتني، ربعوار او کلني ناخالصو عوایدو اټکلیز تعین.

د کوچنیو تشبثاتو د ثابتې مالیې د تثبیتولو لپاره د پورتنیومعیارونو په مراعاتولو سره، لاندینی نهه میتوډونه هم باید مراعات شي.

### ۱ـ د (اصنافو) د کار د ثابت ځای اقتصادي ګټه، او د وړاندې کیدونکو جنسونو او خدمتونو ډول:

هدف دادی چې هیئت باید په لومړي ګام کې د کار د فعالیت ځای د ساحې د تفکیک له پلوه تشخیص کړي او په دویم ګام کې هیئت د هټۍ د داخلي جنسونو بیې د ځایي خلکو د ورځنۍ اړتیا سره سم په داسې ډول و ارزوی چې خرڅلاو د اړتیا سره سم یا ډیرېږي یا لږیږي چې په طبیعي ډول له ډیر پلور څخه ډیره ګټه لاسته راځي او دابايد د هیئت سره د یو هټۍ د مالیې د تثبیت د پاره له شاخصونو څخه یو وي.

بیلګه: حمید د اوړو، وریجو، غوړو او نورو مشابه خوراکې توکو د یوې پلورنځۍ څښتن دی چې یاد پلورنځۍ په داسې یو ځای کې پروت دی چې نفوس یې زیات دی او د هټۍ د دننه شیانو غوښتنه هم زیاته ده، چې دا مورد طبعاً د پلور حجم او ګټه په لوړه کچې ښیي. د مالیې د ټاکلو هیئت باید دا اصل په دقیق ډول تشخیص او د مالیې په ټاکلوکې هغه په پام کې ونیسي او عملي یې کړي.

### ۲ د کرایې ارزښت، د کار د ثابت ځای ظرفیت او پراخوالی او د اصنافو فعالیت:

د کارد ثابت ځای د مالیې د تعین اوتثبیت پر مهال، د هغه کرایوي ارزښت، د کار دثابت ځای پراخوالی او ظرفیت هغه مهم شاخصونه دیچې له هیئت سره د ورځني، میاشتني اوکلني فعالیت د حجم په حقایقو کې مرسته کوي.

بیلګه: قادر د یوې هټۍ مالک دی چې په میاشت کې (۱۰۰۰۰) افغانۍ کرایه ورکوي یا د ذکرشوی دوکان کرایوي ارزښت د بازار د نرخ په حساب لس زره افغانۍ دی. د دوکان دکرایوي ارزښت اونورو لګښتونو، د دوکان ورځنۍ اټکلیزې ګټې او د ګټې اوسط فیصدۍ ته په کتو سره دا په وضاحت سره ثابتیږي چې قادر د ورځې، میاشتې او په کال کې څومره پلور درلودلي دي او د مالیې په ټاکلو کې کلني اټکلیز خرڅلاو یو اساسي او عمده اصل ګڼل کیږي.

### ۳ـ د پانګې د دوران اټکل:

د یوې ټاکلې پانګې په کار اچولو سره، د کار او فعالیت هر محل په فعالیت پیل کوي او پانګه د نورو معیارونو ترڅنګ ډیر اهمیت لري. ځکه که چیرې یوه پلورنځۍ په یوښه موقعیت کې قرار ولري او د موجوده اجناسو لپاره

غوښتنه ډیره وي، د مشتریانو تقاضا ته هغه وخت رسیدګي کولای شي چې د مشتریانو لپاره ډیراو مختلف اجناس شتون ولري، البته دا امر د ډیرې پانګی په کاراچولوپوری تړاو لري او په نهایي تحلیل کې د پانګه اچونکي لپاره د زیات عاید لاسته راوړلو باعث کیږي.

## ۴ـ د کورنیو او بهرنیواجناسو تفکیک، او د خلکو او پیرودونکو(مشتریانو) د ژوند وضعیت تشخیصول:

دکورنیو او بهرنیو اجناسو په منځ کی توپیر د هټیو د مالیې په تثبیت کی د یو معیار په توګه منل کیدای شي ځکه چې کورني اجناس د بیی له پلوه له بهرنیو توکو څخه ټیټ وي او د هغو ګټه د خارجی توکو په پرتله لږ او اخیستونکي یې ډیری وختونه بې وزله خلک وي مګر بهرني اجناس ترهغوی ګران وي. خو که چیری د خلکو د ژوند وضعیت ښه وي اکثرو به دوکاندار ته د لوړی ګټی په ورکولو بهرني توکی اخلی.

موظف مامورین پورتني فکتور ته په کتو سره دکار او فعالیت د یوه ثابت ځای مالیه تثبیت او ټاکلې شي.

په هغه ځایونو کی چی دکار او فعالیت ثابت ځای د ډاډمنو اسنادو او دفترونو درلودنکی وي اود محاسبې د اصولوسره مطابقت ولري او یا هم د پیر او پلور اسناد ونلري د مالیې د ټاکلو لپاره یې لاندې معیارونو باید په پام کې ونیول شي او عملي شي.

**الف:** د کار او فعالیت ثابت ځایونه چې د پلور لپاره د اطمینان وړ اسناد او دفترونه ولري، کلنی پلورنی یې دپلورنو د دفترونو، روزنامچو او توزیع شویو بیلونوته په کتو سره، د ورځني اوسط پلورنو د حد تخمینولو له لاری ټاکل کیدای شي.

بیلګه:

هیئت د لومړی ربعې په پای کې د سالم دهټی مالیه ټاکي. نوموړی هټیوال د حسابونو د ډاډ او منلو وړ دفترونه لري، په دې دفترونو کې ورځني فروشات ثبتوي. د لومړی ربعې د فروشاتو مجموع په اوسط ډول(۵۴۰۰۰۰)افغانی کیږي، ذکرشوی مبلغ پر (۳) تقسیموي چې د یوی میاشتی فروشات په اوسط ډول (۱۸۰۰۰۰) افغانیو ته رسیږی، او د یاد دوکان کلنی پلورنی په لاندې ډول محاسبه کوي.

۲۱٦۰۰۰۰=۱۲*۱۸۰۰۰۰

پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون په ۷۵ مادې کی د لیکل شوی نورم پر بنسټ د سالم د هټۍ مالیه مساوي کیږي په:

۱- (۱۵۰۰۰۰) کلنی عاید له مالیې څخه معاف

۲ - له ۱۵۰۰۰۰ څخه اضافه مبلغ یعنی (۲۰۱۰۰۰۰*۱،۵/۱۰۰=۳۰۱۵۰) افغانۍ

**ب:** هیئت یوې داسې هټۍ ته رجوع کوي چې د حسابۍ او د پیر یو منظم د ډاډ او منلو وړ دفتر لري. هغه اجناس چې له عمده فروش څخه یې پیرودلي دي په عین وخت کی یې د پیر په دفتر کی ثبت کړي دي. د ۱۳۸٦ کال د چنګاښ په میاشت کی هیئت د یادی هټۍ د مالیې په تثبیت باندې اقدام کوي. د پیر دفتر ته په کتوسره دوکان له پیل څخه د سرطان تر اولسمې نیټې پوری چې دهیئت د داخلیدو د ورځی سر برابره ده په ټولیز ډول (۵۵۰۰۰۰) افغانۍپیرنې کړې دي. هغه کاري ورځی چې پکی پیرنی شویدی که چیرې فرض کړو چې (۹٦)ورځې کیږي، پورته ذکر شویو ارقامو ته په کتو سره، ورځنۍ او کلنۍ پیرنې په اوسط ډول په لاندی بڼه تخمین کیږي:

ورځنۍ پیرنې مساوی کیږی: (۵۵۰۰۰۰/۹٦=۵۷۲۹)، د کلنۍ پیرنو اوسط د کاري ورځوپراساس (۵۷۲۹*۳۰۰=۱۷۱۸۷۰۰)، د تخمینی ګټی د فیصدی په اضافه کولوسره کلنی خرڅلاو=۱۸۹۰۷۵۰ افغانی کیږی او د مالیې سنجش یې د ۷۵ مادې د تعدیل د نورم مطابق په لاندی ډول سنجش کیږي.

۱۸۹۰۷۵۰*۱،۵٪=۲۸۳۷۵ افغانۍ.

## ۵. دپیر او پلور د دفترونو په اساس:

که چیرې دکار او فعالیت ثابت ځای د پیر او پلور د دفترونو درلودنکي وي هیئت دا درک کوي چی د یاد ځای د پیر او پلور دفترونه قانوني اوحسابي دي اوټولی معاملې(پیر، پلور، لګښت او ضرر) د حسابۍ د اصولو په رعایتولو سره په دفترونو کې ثبت او د ډاډ وړ دي. همدارنګه د هغوی کلنی خرڅلاو له لس ملیونو افغانیو څخه زیات دی. په دې صورت کی دا ډول ځایونه د هغې ثابتې مالیې تابع نه کیږي چې پرعایداتو باندی د مالیاتو قانون د (۷۴-۷۵ ) مادی د تعدیل په حکم کی درج شوې ده. که چیرې فعالیت کوونکي حقیقي اشخاص وي، پرعایداتو باندی د مالیاتود قانون (۸۷) مادې د حکم پر اساس مکلف دي چی اظهارلیک او بیلانس وړاندی کړي. د هغو مالیه

د(۴) مادې د(۳) فقرې د جدول مطابق سنجول کیږي او پرعایداتو باندی د مالیاتو د قانون د (۸۸) مادې د (۴) جز پر بنسټ پرعوایدو باندی مالیه تحویلوي.

بیلگه: احمد د یوې داسې هټۍ مالک دی د په یوه مالي کال کی یې د (۲۰۰۰۰۰۰) افغانیواجناس له عمده پلورنځئ ځخه پیریدلي ترځو هغه په خپلې هټۍ کې وپلوري. احمد د (۲۰۰۰۰۰) په لگښت سره یاد اجناس د مالي کال په جریان کی په (۳۰۰۰۰۰۰) افغانیو پلوري. د احمد د هټۍ مالیه په هغه صورت کی چې له نورو منابعو ځخه عاید ونلري په لاندې ډول سنجول کیږي.

پیر(۲۰۰۰۰۰۰)افغانۍ

لگښت(۲۰۰۰۰۰)افغانۍ

تمام شوی ارزښت(۲۲۰۰۰۰۰)افغانۍ

په مالي کال کې پلور (۳۰۰۰۰۰۰)افغانۍ

گټه (۳۰۰۰۰۰۰-۲۲۰۰۰۰۰=۸۰۰۰۰۰ افغانۍ

د هغه مالیه پرعایداتو باندی د مالیاتو قانون د (۴)مادې د (۳) فقرې د جدول مطابق سنجش کیږي.

بیلگه: د زرلښت لیمیټډشرکت د ۱۳۸٦ مالي کال په اږدو کې د صادراتو او وارداتو تر ځنگ د خوراکی توکو د پلورلو یو دوکان هم لري. یاد شرکت د دوکان ټول خرڅلاو یا خپل مال یا یې د سوداگر له زیرمتون (گودام) ځخه او یایې له یو بل عمده فروش ځخه پیرلي دي او د پیر او پلور قانوني دفتر هم لري چې د خوراکه پلورنځای د دوکان لگښت هم په دفتر کې ثبتوي. هیئت موندی چې یاد دفتر په بشپړ ډول قانوني دی او ټولی معاملې لکه پیر، پلور، او لگښت یې د حسابی د منل شویو معیارونو پر بنسټ درج شوي دي، د پیر بیلونه یې په ژورنال کې ثبت او اسناد یې ساتل شوي دي او د مالي کال په پای کې هغه په بیلانس کی منعکسوي. په هغه وخت کې د (۷۴-۷۵) مادې د حکم د تعدیل پر بنسټ د یاد شرکت په خوراکه پلورنځای باندې مالیه وضع شوې نده او شرکت باید خپله مالیه په لاندې ترتیب سره ورکړي:

بیلگه: د شرکت او د خوراکه پلورنځۍ ټوله پیرودنه (۲۸۰۰۰۰۰۰) افغانۍ

د شرکت قانوني لګښت =(۱۰۰۰۰۰۰) افغانۍ

تمام شوې ارزښت (۲۸۰۰۰۰۰۰+۱۰۰۰۰۰۰=۲۸۱۰۰۰۰۰۰) افغانۍ

د شرکت او خوراکه پلورنځۍ پلورنې =۳۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ

د شرکت او خوراکه پلورنځی ګټه (۳۰۰۰۰۰۰۰۰-۲۸۱۰۰۰۰۰۰=۱۹۰۰۰۰۰۰) افغانۍ

د شرکت انتفاعي مالیه (۳۰۰۰۰۰۰۰۰*۴)/۱۰۰=۱۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ

دمالیې وړ ګټه (۱۹۰۰۰۰۰۰-۱۲۰۰۰۰۰۰=۷۰۰۰۰۰۰ افغانۍ

پرعایداتو باندې مالیات = (۷۰۰۰۰۰۰*۲۰)/۱۰۰=۱۴۰۰۰۰۰ افغانۍ

د ورکړې وړ مالیې مجموعه : (۱۲۰۰۰۰۰۰+۱۴۰۰۰۰۰=۱۳۴۰۰۰۰۰ افغانۍ

پورتنې بیلګې هغه مهال پرحقیقي او حکمي اشخاصو باندی دتطبیق وړ ګرځي چې یادو اشخاصو په تیروکلونوکی د پورتنی تګلاری څخه استفاده کړې وي او په راتلونکي کې هم ژمنه وکړي چې د خپل کار د ثابت ځای ټول فعالیتونه به په اظهارلیک او بیلانس کی منعکس او مالیاتي اداردو ته سپاري. که چیری مالیاتی اداره ومومي چې د حسابی منل شوي معیارونه د خوراکه پلورنځی په فعالیتونو کی مراعات شوي ندي هغه مهال کولای شي چې د (۷۴-۷۵) مادو د تعدیل ثابتی مالیې ته مراجعه وکړي.

که چیرې حقیقي او حکمي اشخاص ادعاء وکړي چې زمونږ پیر او پلور په دفترونو کې ثبت دی، د هغو سندونه هم ساتو او د کال په پای کې اظهارلیک اوبیلانس هم وړاندې کوو. هیئت دمالیاتی شعباتوسره د مرستې په موخه د تیرمالي کال اسناد باید نښاني کړي، او د تیر کال له پیر، پلور او لګښتونو څخه باید مالیاتی دفترونو ته راپوروکړي ترڅو د هغې هتې د فعالیت اړوندو حقایقو لپاره یو شاخص وي چې د سندونو درلودلو او د اظهارلیک او بیلانس له مخی د مالیې د ورکړې دعوا کوي.

## ٦. د ورځنیو، ربعواره او کلني پلورنو د اټکلیزو عوایدو پر اساس د مالیې تثبیت:

د کار یو ثابت ځای چې د پیر او پلور دفترونه ونلري، د مالیې ټاکلو هیئت د ورځني اوکلني پلور د اټکل لپاره باید له لاندینیو میتودونو څخه استفاده وکړي:

پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون د تعلیمات نامې په (۷۵) مادې کې لیکل شویو ټولو معیارونو ته په کتو سره د کار په یو مناسب وخت کې، په هټۍ کې د جنس یا خدمتونو ځانګړتیاوو ته په کتو سره د خدمتونو او اجناسو د عرضې د لیدو لپاره د پام وړ هټۍ ته رجوع وکړی او د څو شیبو لپاره د یادې هټۍ پلورنې د وخت په قیدولو سره، د کاری وختونو، د خرڅلاو د مناسب وخت د ځانګړتیاوو په پام کی نیولو سره او د کار مناسب فصل ته په پام سره چې د اجناسو په عرضې او تقاضا باندې مستقیمه اغیزه لري د اړوندو توکو د متقاضیانو مراجعه له ځانه سره محاسبه کړی.

که چېری وخت قید شي، د اصنافو د مالیې د تثبیت لپاره باید لاندی توپیرونه په پام کې ونیول شي:

۱ـ د هغه ځایونو دوکانونه چې پلور یی سهاروختي پیل او تر ماښام ناوخته پورې ادامه ولري.
۲- هغه دوکانونه چې په لویو منډي ګانو او سترو پلورنځیو کې وي او د هغوی کار دمازیګر له څلور بجو څخه پیل او د شپې ترناوخته پورې دوام لري.
۳ـ د درملتونونو فعالیتونه په عمومي ډول د مازیګر له څلورو بجو څخه پیل او د شپې ترناوخته پورې دوام کوي.
۴- د هغو مارکیټونوپلورنې چې تازه میوه اوسبزیجات په عمده ډول وړاندې کوي پلورنې یې په عمومې ډول له سهار وختي څخه د سهار تر۸ او۹ بجوپورې دوام لري.
۵ـ د ښار هغه مستریان چې سهار ناوخته کار پیل کوي او د مازیګرترڅلورو بجوپورې یې کار جریان لري .
بناً که چېرې ټول پر دغه بنسټ درجه بندي شي بیا هم تفاوتونه شتون لري.
بیلګه: شریف د خوراکي توکو د یو دوکان مالک دی، هیئت جوتوي چې د خوراکي توکو د دوکانونو د خرڅلاو لپاره مناسب وخت له (۹) څخه تر (۱۱) بجو پورې او وروسته د ماسپښین له (۳) څخه تر (٦) بجو پوری وي. د مالیې ټاکلو لپاره مؤظف هیئت باید له پورتنیو وختونو څخه په یو وخت کې د شریف دوکان ته ورځي او د لسو دقیقو یاهم د نیم ساعت لپاره یا هرڅومره وخت چې لازم وي د دوکان پلورنې د ځان سره یاددابنت کوي، مثلاً دا ثابته شي چې شریف دوکاندار په لسو دقیقوکی ۱۰۰ افغانۍپلور لري چې د یو ساعت خرڅلاو یی مساوی کیږی: (٦٠*۱۰=٦۰۰ افغانۍ ). هیئت د ارزیابۍ له لارې دا پیداکوي چې شریف دوکاندار د ورځې په اوسط ډول اته ساعت کارکوي او ورځنی فروشات یی (۸*٦۰۰)=۴۸۰۰ افغانۍ اټکل کیږي. په دې ترتیب کلنۍ پلورنې یې کاري ورځو ته په پام سره (۸۴۰۰*۳۰۰۹=۱۴۴۰۰۰۰ افغانۍ کیږي او د شریف د دوکان کلنۍ مالیه د طرزالعمل د (۴) جزمطابق سنجش کیږي.

**۷.د شته اجناسو د ورځني نرخ پر بنسټ د مالیې تثبیت:**

نجیب یوه پلورنځی لري چې د هغې مخې ته څوډوله موټرونه دپلور لپاره ولاړ دي او د پلورنځی دننه ډول ډول یخچالونه، دکالیو مینځلو ماشینونه، ایرکنډیشنونه او دا ډول نور توکی شتون لري، هیئت د مالیې د ټاکلو لپاره د نجیب پلورنځی ته ورځي او (پیر او پلور) د دفترونو پوښتنه ورڅخه کوي. د پلورنځی مالک د پیر او پلور د دفترونو له شتون څخه انکار کوي. د دې لپاره چې د نجیب له پلورنځي څخه بهر او دننه ډیر ښه او قیمتی اجناس موجود دي چې عام خلک د هغوی د پیرلو توان نلري، هیئت هم په دې نه توانیږي چې د هغه د ورځني او کلني خرڅلاو اندازه مشخصه کړي، ځکه چې په هغه خاص وخت کی چې هیئت شتون ونلري کیدای شي د ډیرو پیسو خرڅلاو صورت وومومي. په داسی حالاتو کی هیئت اجازه لري چې د پلورنځی دننه او بهر توکو بیه د ورځني نرخ پر بنسټ (دا چی قیمتونه د کال په بیلابیلو وختونو کی تغیر خوری نو باید نرخونه د تثبت لپاره د کال په بیلابیلو دورو مراجعه وشی) تثبیت کړي، او هغه د کلنی مالیې په توګه تعیین کړي.

بیلګه: په یاد پلورنځي کې لاندې اجناس د لاندیني بیو په درلودلو سره شتون لري:

۱ـ درې کرولا موټرچی د هریوه بیه (۴۰۰۰۰۰) افغانی او د درو موټروبیه (۱۲۰۰۰۰۰) افغانی .

۲ـ پنځه سراچې ډوله موټر چې د هریوه بیه (۲۰۰۰۰۰)افغانی ده او د پنځه موټرو بیه ( ۱۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۳ـ دوه ټونس موټرچې د هریوه بیه (۱۵۰۰۰۰) افغانی ده او د دواړو بیه (۳۰۰۰۰۰) افغانی

۴ـ دوه بنزموټرچې ده هریوه قیمت (۱۰۰۰۰۰۰) افغانی ده او د دواړو بیه (۲۰۰۰۰۰۰) افغانی د ورځني ارزښت په اساس محاسبه شویدي. په همدې ترتیب هیئت د پلورنځی دننه اجناس لکه یخچال ، د کالیومینځلو ماشین، ایرکنډیشین او همدا راز نور مشابه اجناسو تعداد او ډولونو ته په پام سره د هغوی د ورځني ارزښت بیه د دې طرزالعمل مطابق لس میلونه افغانی قیمت ګذاري او تثبیت کړه.

اوس څرګنده شوه چې د نجیب د پلورنځی دننه او بهر اجناسو ټوله بیه (۱۴۵۰۰۰۰۰) افغانی ده او د هغه کلنی مالیه مساوي کیږي:

۱۷۴۰۰۰۰=۱۰۰/۱۲*۱۴۵۰۰۰۰۰

## ۸ . د خدمتونود وړاندې کونکو د مالیې تثبیت:

د کار په ځینو ثابتو ځایونو کې نه اجناس او نه هم مالونه بلکه خدمتونه وړاندې کیږي، د دوکان مالک هغه دفترونه چې د عایداتو اندازه پکی ثبت شي، نلري. پداسې حالتونو کې ورځني او کلني عواید د هیئت لخواء ټاکل کیږي او د ټول کال د عوایدو مجموعه د ۱،۵٪ مالیې پراساس سنجول کیږي.

بیلگه: فریدون د سلمانۍ یو دوکان لري ، نوموړی هغه دفتر چې خپل عواید پکې ثبت کړي نلري. د مالیې ټاکلو هیئت باید د کار په یو مساعد وخت کې د نوموړي دوکان ته رجوع وکړي (دغه مراجعه باید لږ تر لږه درې ځلې صورت ومومي ترڅو حقیقت ته نږدی عواید ترلاسه شي). هیئت گوري چې د فریدون د سلمانۍ په دوکان کی شپږ نفره د وربښتانو د سمولو لپاره منتظر دي. هیئت باید یو نفر تر نظارت لاندې ونیسیچې په څومره موده کی د هغه ویښتان جوړیږی، مثلآ په ۲۰ دقیقو کې (۱۰۰) افغانی ترلاسه کوي او د ارزونی پر بنسټ جوتیږي چې د یاد دوکان ورځني کاري ساعتونه شپږ ساعتونه کیږي. پدی توگه ثابتیږي چې فریدون سلمان د ورځې:
۱۸*۱۰۰= ۱۸۰۰ افغانۍ عاید لري.

د پورتني سنجش له مخې دا ثابتیږی چې د فریدون سلمان ورځنی عاید (۱۸۰۰) افغانیو ته رسیږي او د هغه کلنی عواید مساوي کیږي (۳۰۰*۱۸۰۰)=۵۴۰۰۰۰ افغانۍ. د هغه کلنې مالیه د (۷۵) مادې د تعدیل د
نورم مطابق مساوي کیږي ۱،۵٪*۵۴۰۰۰۰/۱۰۰= ۸۱۰۰ افغانۍ

## ۹ د تعین شوې ثابتې مالیې د تطبیق وړدوره اود جریموسنجش:

هغه مالیات چې پر پورتنی بنسټ باندې تعین او مشخص کیږي د درې کلونو لپاره ده او که د متشبث په کار کی د پام وړ بدلون رانشي د درې کلونو د مودې (یوه مالیاتی دوره) لپاره اعتبار ورکول کیږي. مالیه ورکونکې مکلف دی چې مشخص شوې مالیه پرعایداتو باندی د مالیاتو قانون د (۸۸) مادې د (٦) فقرې مطابق په څلورو مساوی قسطونو کې د هری ربعې د پیل او د راتلونکې ربعې د لومړۍ میاشتې تر پنځلسمې نیټې پوری د دولت د عوایدو حساب ته تحویل کړي. که چیرې د یوې ربعې مالیه د راتلونکې ربعې د لومړۍ میاشتې ترپنځلسمې نیټې پورې تحویل نشي (په هغه صورت کی چې هیئت د یادې ربعی په جریان کی هغه تثبیت کړي او د کارد ثابت ځای مالک ته یې خبر ورکړی وي)، د یادې ربعې مالیه او یاهم د یادې ربعی د مالیې یوه برخه چې د ټاکلي میعاد پورې د دولت د مالیاتو حساب ته تحویل شوې نه وي، د مالیاتو چارو د اداري قانون د (۳۴) مادې د حکم مطابق مؤدي د ورځني ځنډ پر وړاندې د جریمې پر ورکړه مکلف دی.

بیلگه: د احمد په دوکان باندې د ۱۳۹۵ کال د سلواغې پر دیارلسمه نیټه د هیئت لخوا (۲۰۰۰۰) افغانی مالیه تعین شوه. احمد دلومړۍ ربعې اول قسط چې (۵۰۰۰) افغانۍ کیږي د ۱۳۹٦ کال د جوزا دمیاشتی پر۲۰ نیټه تحویلوي او د دویمې ربعې مالیه د ۱۳۹٦ د اسد د میاشتې په لومړۍ نیټه تحویلوي. په داسې حالتونو کی د ځنډ جریمه په لاندې ډول محاسبه کیږي.

نوموړی مودي د حمل د میاشتې له ۱٦ ورځې څخه د جوزا تر ۲۰ نیټې پورې چې ټولې ٦۷ ورځې په بر کې نیسي تر جریمې لاندې راځي او په لاندې ډول محاسبه کیږي:

دهرې ورځې جریمه = ۵۰۰۰*۰،۱۰/۱۰۰=5

د (٦۷) ورځو جریمه (۵۰۰۰) افغانۍ مساوي کیږي (۵*٦۷)=۳۳۵ افغانۍ چې د اصلي مالیې سره یوځای د ترلاسه کولو وړ ده.

په همدې ترتیب د دویمې ربعې جریمه (۵۰۰۰) افغانۍ چې د ۱۳۹٦ کال (د اسد د لومړنۍ نیټې) تحویلیږی په لاندې ډول محاسبه کیږي.

یاد مؤدي د ۱۳۹٦ کال د سرطان د میاشتې له شپاړسمې نیټې څخه د ۱۳۹٦ کال ده اسد تر لومړۍ نیټې پورې چې (۴٦) ورځې کیږي، تر جریمې لاندی راځي او جریمه یې په لاندی ډول محاسبه کیږي.

د هرې ورځې جریمه= ۵۰۰۰*۱،۰/۱۰۰=5

ده (۴٦) ورځوجریمه (۵۰۰۰) افغانۍ مساوي کیږي (۴٦*۵)=۲۳۰ افغانۍ

## د اظهارلیک ډکول او دمالیې اداینه :

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه د کوچنیو تشبثاتو مالیه د دریو کلونو لپاره مشخص او ټاکل کیږي. ټاکلې مالیه باید په منظورشوي اظهارلیک کې و لیکل شي. مالیه ورکونکی مکلف دی چې ټاکلې مالیه د هغه لارښود پراساس چې د مالیاتی اداري لخواء صادر شویدی پر عایداتو باندی د مالیاتو د قانون د اتیایمې مادې د شپږمې فقرې د حکم پر بنسټ په ربعوار ډول یو ټاکلي مالیاتي حساب ته چې د مالیاتي اداري لخواء معرفي شوی وي تحویل کړي او د بانکي اسنادو په درلودلو سره مالیاتي اداري ته ډاډ ورکړي.

## د تطبیق احکام :

د مالیاتي قوانینو دحکمونو مطابق ټول هغه اشخاص چې د مالیې د ورکړې تابع دي، مکلف دي چې خپل مالیاتی وجایب د قانون د حکمونو په مراعاتولو سره په ټاکلي وخت کی اداکړي. د مالیاتي قوانینو له حکمونو څخه د سرغړونې او دمالیاتی قوانینو د نه منلو په صورت کې، مالیاتي اداره د مالیه ورکوونکو د اطاعت پذیر کولو په موخه

مکلفه ده ترڅو د مالیاتو چارو د اداري قانون په نهم او لسم فصلونو کې له لیکل شویو تطبیقی حکمونو څخه استفاده وکړي او د مالیې په راټولولو اقدام وکړي.

**د انفاذ نیټه:**

**۱**ـ دغه طرزالعمل د منظوری له نیټې څخه نافذ او ټولی مالیاتي اداري یې پر تطبیق باندې مکلفی دي.

**۲**ـ له نورو نافذه طرزالعملونه سره د دې طرزالعمل د مغایرت په صورت کې، دا طرزالعمل د تطبیق وړ دی.

| | | |
|---|---|---|
| نصر الله دراني | عبدالولي نوري | عبدالحبیب ځدراڼ |
| د پالیسی د طرح او تحلیل آمر | د حقوقي خدمتونو رئیس | د عوایدو لوی رئیس |

وکتل شو

منظور دی

ډاکټر نجیب الله وردګ

د ګمرکونو او عوایدو معین